درېیم کتاب

د ماشومانو حقونه

# د غوره ګټو ارزونه یعني څه؟



# ښه راغلاست!

## دا کېسه د ځلورو ځوانانو په اړه ده - کټ مټ لکه تاسې.

هغوی له یوه اوږده سفر وروسته په خونديز توګه اروپا ته را رسېدلي دي.
ځينې ځوانان بيا په يوازې توګه راغلي دي. ځينې يې له کورنيو سره راغلي دي.
دوی زياتې پوښتنې لري – او له دوی سره د هغو خلکو له خوا مرسته کېږي چې د دوی د اوسېدو په ځای کې کار کوي.

## دا کېسه له تاسې سره هم مرسته کولای شي!

تاسې به زده کړئ:

- د غوره ګټو ارزونه يعنې څه
- د څه تمه بايد ولرئ
- دا ولې مهمه ده چې تاسې له افسرانو سره ګډون ولرئ او ورسره کار وکړئ
- څوک تاسو سره مرسته کولای شي؟
- ستاسې د حقونو په اړه

تاسې کولای شئ دا کېسه ولولئ:

- يوازې
- له يوه ملګري سره
- له يوه کس سره چې دلته کار کوي

## فکر پرې وکړه. دا سمه ده چې و يې دروې او وروسته بېرته ورته راشې.

که څه شی درته سخت وي، له چا وغواړه چې درته تشريح يې کړي.
ستا سرپرست، ټولنيز کارکوونکی يا وکيل درسره مرسته کولای شي.

د هغو کسانو لپاره چې تر 18 کلونو کم عمر لري او يوازې راځي، يو سرپرست به ورته وټاکل شي. په ځينو هېوادونو کې، سرپرست ته استازی هم ويل کېږي.


همداراز، په ځينو هېوادونو کې د پناه غوښتنه د نړيوال خونديتوب غوښتنه بلل کېږي.

## په پای کې به ته ومومې:

- يوه پاڼه له سيمه ييزو معلوماتو سره
- يو تفريحي کوييز
- داسې يو خالي ځای چې خپلې پوښتنې په کښې وليکې او ګټورې اړيکې په کې اضافه کړې


په پای کې، خبر اوسئ چې ټول خدمات چې د استوګنې په مرکزونو کې درته وړاندې کېږي، وړيا دي. که کوم کارکوونکی له تاسې پيسې وغواړي، له يوه باور وړ افسر يا خپل سرپرست سره خبرې وکړه.

# د دې کیسې
## کرکټرونه وپېژنئ



### محمد

زه 17 کلن یم. زه اکثره وخت خوشحاله یم. زه خوښ یم چې خپلو دوستانو او کورنۍ سره هر وخت چې وکړای شم، مرسته وکړم.
زه څو اونۍ مخکې یوازې راغلی یم او د خپل نیکه په لټه کې یم. زه لېواله یم چې کار پیل کړم.



### احمد

زه 15 کلن یم. زه له خپلې مشرې خور جسمین سره راغلی یم، چې له هغه وخت راهیسې زما پالنه کوي چې زموږ مور وفات شوې ده. زه خوښ یم چې له خلکو سره وخت تېر کړم او نوي ملګري پیدا کړم. زه واقعاً غواړم چې ژر تر ژره بېرته ښوونځي ته لاړ شم. اوس مهال، زه دلته سیمه ییزه ژبه زده کوم.




### جسمین

زه 24 کلنه یم. زه یو ځای له خپل ورور، احمد سره راغلی یم، کوم چې تر خپله وسه پورې مې د هغه پالنه کړې ده. مور تازه رارسېدلې یو او هڅه کوو چې له خپل تره سره چې د یو څو وخت لپاره دلته په اروپا کې ژوند کوي، یو ځای شو. له ورزش سره مینه لرم او د فوټبال په لوبه کې ډېر ښه یم.



## ادم

زه 9 کلن یم. زه دلته په خپله راغلی یم. د اوس لپاره ما تصمیم نیولی چې خبرې و نه کړم. دلته تر را رسېدو وړاندې ما ډېرې بدې تجربې ولیدلې. وړاندې تر دې چې خبرې وکړم زه یو څه وخت ته اړتیا لرم. خو زه هوښیار یم او په هر شي باندې پوهیږم. زه خبرو ته ښه غوږ نیسم او غواړم چې بېرته ښوونځي ته ولاړ شم. ټول هغه ملګري مې خوښیږي چې تر اوسه یې لرم.



## اغلې اینس

زه یو سرپرست یم او د ښه راغلاست په دې مرکز کې کار کوم. زه تر خپله وسه پورې هڅه کوم چې له ټولو هغو ماشومانو او ځوانانو سره مرسته وکړم چې د پناه غوښتونکې دي. زما پخلی خوښیږي او ډېر خوشحاله کېږم کله چې وینم هر څوک بوخت او فعالیت لري. ورزش موږ ټول په جسمي او دماغي لحاظ سالم ساتي.



## ښاغلی فرید

زه حقوقي سلاکار یم، کوم چې یو ډول وکالت دی. زه دلته له نورو ډېرو ښو روزل شوو همکارانو سره په ګډه کار کوم. زه ټولو پناه غوښتونکو ته د قانوني موضوعاتو او د دوی د پناه غوښتنې د غوښتنلیکونو په اړه معلومات او ملاتړ ورکوم. زما خوښیږي چې رنګارنګ پیغاملرونکي ټي شرټونه واغوندم.


د زړه له کومې مننه له ټولو هغو ځوانو پناه غوښتونکو څخه چې دا کېسه يې له خپرېدو مخکې ولوستله او په ښکلې توګه يې د دې په بشپړولو کې مرسته وکړه.

هغوی د اصلي کرکټرونو د نومونو په ټاکلو کې هم مرسته وکړه.


مننه همداراز د مالتا او هالند له چارواکو څخه چې له تنکيو ځوانانو سره د بحثونو ملاتړ يې وکړ.


اغلې اینس...
...ایا تاسو یو شېبه وخت لرئ چې تشریح کړئ "د ماشوم غوره ګټې" څه معنا لري؟
البته! په یاد ولرئ، ماشوم هغه څوک دی چې عمر یې له 18 کلونو کم وي.
هو!
د ماشوم د غوره ګټو په پام کې نیول معنا دا ده چې د ماشوم د خوندیتوب، خوشحالۍ او روغتیا لپاره غوره انتخابونه او حل لارې پیدا شي.
هغه لویان چې د ماشومانو پالنه کوي، لکه مور، پلار یا سرپرست، باید تل تا لومړی په پام کې ونیسي. هر ماشوم د خوندي او سالم ژوند، خوړو، ښوونځي، لوبو وخت او مینه ناکه کورنۍ مستحق دی.
هغه کسان چې ستا پالنه کوي، د چارواکو په ګډون چې ستا لپاره پرېکړې کوي، باید ستا هیلې او وېرې واوري.


ځوانان لکه ته، چې په اروپا کې د پناه غوښتنه کوي، اکثره يوازې راځي او ملاتړ ته اړتيا لري.
... خو که يو ماشوم د کورنۍ له غړو سره راشي؟
سرپرست دا هڅه نه کوي چې ستا د کورنۍ ځای ونيسي، بلکې هغه به له تا سره تر هغه وخته پورې مرسته کوي تر څو چې ته يوازې يې. مور دا ډاډمنوو چې ستا غوره ګټې خوندي پاتې شي، تر هغه چې ته نورې مرستې ته اړتيا ونه لرې.
د هر ماشوم غوره ګټې مهمې دي. هر بالغ کس چې د يوه ماشوم پالنه کوي، بايد دا په پام کې ونيسي چې د هغه لپاره څه غوره دي. خو... دا تل اسانه نه وي. ځينې وختونه پالونکي له ستونزو سره مخ کېږي. دلته ټولنيز کارکوونکي کولای شي هغوی ته مشوره ورکړي.
ته کولای شي له ټولنيز کارکوونکي سره هم خبرې وکړې، که ستا کورنۍ ستا د پالنې توان نه لري لکه څنګه چې يې بايد وکړي. دا ټولې خبرې محرم پاتې کېږي!


ته کولای شې ټولې خپلې خبرې او احساسات له خپل سرپرست سره شریک کړې.
همداراز... چارواکي ښایي داسې پرېکړې وکړي چې ستا پر ژوند اغېز ولري. نو یو سرپرست به له تا سره مرسته وکړي چې له چارواکو سره خبرې وکړې، تر څو ستا غږ واورېدل شي.
ایا ته کولای شې د یوې پرېکړې مثال ورکړې چې هغوی یې باید وکړي؟
ډاډه اوسه. پرېکړې کېدای شي دا وي چې ته باید کوم ډول طبي پاملرنه ترلاسه کړې، چېرته ژوند وکړې او له چا سره.
خو زه فکر کوم زه دومره لوی شوی یم چې پخپله پرېکړه وکړم! زه غواړم له خپل نیکه سره واوسم، هغه چې مور د سفر پر مهال ورک کړ.
ښه شوم. وینې، سرپرستان ستا خبرې اوري.


هغوی ستا نظر ته جدي پام کوي او له چارواکو سره مرسته کوي چې ستا شخصي حالت درک کړي... او دا پرېکړه وکړي چې ستا لپاره څه غوره دي.
هغوی دا څنګه کوي...؟
روزل شوي افسران به له تا پوښتنې وکړي، تر څو ستا د حالت په اړه تر ټولو ډېر معلومات ترلاسه کړي.
ستا ځوابونه به چاروکو سره مرسته وکړي چې دا پرېکړه وکړي چې ستا لپاره څه غوره دي. احمده ستا په قضیه کې به چارواکي لومړی دا وګوري چې ایا ستا نیکه...
...ټولنیز کارکوونکي او سرپرستان د محرمیت اصولو ته ژمن دي...
... په خوندي ځای کې ژوند کوي...
... تاسې ته خواړه، کالي او زده کړه برابروي...
...او په تېر کې یې له تا سره ښه چلند کړی وي.


هو... دا کار بیا وروسته د ستونزو مخنیوی کوي. ځینې وختونه، هغه څه چې یو ماشوم یې په هغه وخت کې غواړي ښایي د هغه په ګټه نه وي.
هو... دا ټول ډېر مهم دي!
بالکل!
زه پوه شوم... چاروکي غواړي چې هر څه په سمه توګه ترسره شي...
اوس زه پوه شوم چې ولې هغوی له ما څخه د خپل ټیکه په اړه دومره ډېرې پوښتنې وکړې...
هو، ځانګړې پوښتنې کول، په تېره بیا کله چې مهمې پرېکړې باید وشي، دې ته د ماشوم د غوره ګټو ارزونه ویل کېږي.


هر څه چې کولای شې، شریک یې کړه.
په یاد ولره: دا ارزونه کېدای شي په بېلابېلو وختونو کې، په یو نه یو ډول لیدنو کې، او د بېلابېلو دلیلونو لپاره ترسره شي. ستا په قضیه کې، دا د دې لپاره ده چې ته د خپلې کورنۍ له غړو سره یو ځای شې، چې دې ته د کورنۍ بیا یو ځای کېدل ویل کېږي...
....چې دا هغه پروسه ده چې بېل شوي د کورنۍ غړي بېرته سره یو ځای کوي. ایا ته بل مثال یادولی شې؟
...کله چې یو ماشوم په داسې ځای کې ژوند کوي چې خوندي نه وي.
بالکل!
له «ناخوندي» څخه مو هدف څه دی؟
له بده مرغه، ټول ماشومان خوندي نه وي، په ځانګړي ډول هغه ماشومان چې یوازې راځي.


ځيني خلک ښايي ځان مهربانه وښيي، خو وروسته بد چلند وکړي يا ستا له يوازې والي ناوړه ګټه واخلي.
ځيني وختونه، حتی د کورنۍ غړي هم کېدای شي له تا سره بد چلند وکړي.
دا ډېر مهم دي چې دا ډول خبري له چارواکو سره شريکې کړي، تر څو هغوی درسره مرسته وکړي.
هغه افسر چې له ما يې پوښتنې کولې، ډېر مهربان و...
هو، اکثره وخت دا کسان ټولنيز کارکوونکي يا د ماشومانو روان پېژندونکي وي.
دا معلومات په زړه پورې او ګټور وو. ډېره مننه!
هيله کوم! هېڅکله پوښتنې کول مه دروه!

# مهم

**په دغه هېواد کې ...**

د دې ځای اداره چې دلته د ژوند کولو لپاره یو خوندي ځای برابروي، کوم چې ورته ریسپشن هم ویل کېږي، هغه دی:

______________________________________________

**که زه وغواړم چې په دې اړه لا ډېر پوه شم:**

- هغه عمومي امتیازات چې ما ته به راکړل شي، لکه کالي یا صحي محصولات، زه کولای شم اړیکه ونیسم یا ورشم:
______________________________________________
- کله چې ناروغ یم نو څه باید وکړم، زه کولای شم اړیکه ونیسم له: ______________________
______________________________________________
______________________________________________
- څرنګه ښوونځي ته ولاړ شم، یو مهارت یا سیمه ییزه ژبه زده کړم، زه کولای شم اړیکه ونیسم له: __________
______________________________________________
______________________________________________

هغه مسوول چارواکی چې زما د پناه غوښتنې پر غوښتنلیک باندې کار کوي هغه دی: ______________________
______________________________________________

زما د سرپرست نوم دی: ______________________________________
______________________________________________

که زه غواړم د غوره ګټو ارزونې په اړه نور معلومات ترلاسه کړم، دا چې دا ارزونه کله ترسره کېږي او له هغو معلوماتو سره څه کېږي چې زه یې شریکوم، نو زه کولای شم له خپل سرپرست سره خبرې وکړم یا وګورم:
______________________________________________
______________________________________________
______________________________________________

# مهم

**په دغه هېواد کې ...**

همداشان زه کولای شم په وړیا توګه له حقوقي سلاکار سره اړیکه ونیسم تر څو د پناه غوښتنې د پروسیجر او اړوند موضوعګانو په اړه لا ډېر زده کړم. د دې لپاره، زه کولای شم اړیکه ونیسم له:____________________________________________
______________________________________________________________________________________________________

که چېرې کوم کس دلته کار کوي، لکه افسران، حقوقي سلاکاران، ټولنیز کارکوونکي یا زما سرپرست او له ما سره بد چلند وکړي، نو زه کولای شم له لاندې لارې خپل شکایت وکړم: ____________________________________________
______________________________________________________________________________________________________
______________________________________________________________________________________________________

د بېړني حالت پر مهال، زه کولای شم له امبولانس سره په دغه شمېره اړیکه ونیسم ______________________________
یا له پولیسو سره په دغه شمېره ______________________________________________________________

نور مهم معلومات: __________________________________________________________________________
______________________________________________________________________________________________________
______________________________________________________________________________________________________
______________________________________________________________________________________________________
______________________________________________________________________________________________________

# کوییز

**زه غواړم د غوره ګټو د ا رزونې په اړه خپله پوهه وګورم چې ما يې په اړه څه زده کړي دي.**

☑ سم ځوابونه په نښه کړئ.

1 د ماشوم د غوره ګټو په پام کې نيول معنا دا ده...

- ◯ ا. چارواکي زما او زما د سرپرست خبرې اوري، تر څو زما احساسات، اړتياوې او نظرونه درک کړي تر څو دوی داسې پرېکړه وکړي چې زما لپاره څه غوره دي.
- ◯ ب. هېڅوک به زما خبرې نه واوري.

---

2 د دې لپاره چې چارواکي زما اړتياوې او دا چې په ځانګړې حالت کې زما لپاره څه غوره دي، وپېژني، هغوی به له ما د ماشوم د غوره ګټو ارزونې پر مهال پوښتنې وکړي.

- ◯ الف. سم
- ◯ ب. ناسم

---

3 ولې چارواکي د غوره ګټو ارزونه کوي؟

- ◯ ا. د دې لپاره چې زما لپاره غوره حل لارې پيدا کړي، کله چې مهمې پرېکړې بايد وشي، لکه چېرته بايد ژوند وکړم او له چا سره.
- ◯ ب. ځکه چې هغوی خبرې کول خوښوي.

---

4 د ماشوم غوره ګټې يوازې هغو ماشومانو ته اړوندې دي چې بې له مور او پلار راځي.

- ◯ الف. سم
- ◯ ب. ناسم

---

5 هغه افسران چې هلته کار کوي چېرته چې زه اوسېږم، به منظم ډول له ما او زما له سرپرست سره وګوري، تر څو پوه شي چې ايا زه نوې اړتياوې لرم.

- ◯ الف. سم
- ◯ ب. ناسم

## د کوييز ځوابونه

پوښتنه 1: ا | پوښتنه 2: ا | پوښتنه 3: ا | پوښتنه 4: ب | پوښتنه 5: ا

# یادښتونه

# یادښتونه

EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

## PASHTO

دا کتابچه یوازې د معلوماتي موخو لپاره دی. دا پخپله هېڅ ډول حقونه یا مکلفیتونه نه رامنځته کوي. د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې اداري (EUAA) د دې موادو اصلي برخه چمتو کړې ده، او د دې کتابچې بیا تولید او بدلون یوازې د EU غړو هیوادونو لپاره د EUAA له خوا اجازه لري. EUAA د EU غړو هیوادونو یا کوم بل مسؤل دریم اړخ له خوا په دې کتابچه کې د شاملو معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتیا، قانونیت یا باوری توب لپاره هېڅ مسوولیت یا تضمین نه منل کېږي. نه EUAA او نه هم د EUAA په استازیتوب کوم کس په دې کتابچه کې د شاملو معلوماتو د کارونې مسوولیت پر غاړه نه لري.

© پناه غوښتنې لپاره د اروپايي اتحادیې اداره، 2025

